


# د قومي مالياتي ايوارډ په حق له د سردارحسين بابک بيان ته يوه کتنه

د عوامي نيشنل پارټۍ پښتونخوا لوئي سکتر او پښتونخوا اسمبلۍ کښې د خپل ګوند پارليماني ليډر ښاغلي سردارحسين بابک وئيلي دي چې د قومي مالياتي کمشن (NFC) د ايوارډ جاري کولو نه بغېر د 18-2017 وفاقي بجټ غېر آئيني دے. دهٔ صوبائي بجټ هم په دې اساس آئيني توګه باندې شک من وګرځولو. ښاغلي سردارحسين بابک ووئيل چې دا ايوارډ کال ۲۰۱۴ کښې ورکول آئيني غوښتنه وه ولې تراوسه دغه آئيني غوښتنه پوره نهٔ کړے شوه. دهٔ دې لړ کښې وفاقي او صوبائي دواړه حکومتونه ذمه وار وګرځول.

ترڅو چې د اين ايف سي ايوارډ تعلق دے نو دا د وفاقيت اساسي برخه ده. د پاکستان د جوړيدو نه اګاهو شريک هندوستان کښې دې ايوارډ ته د ملک مالياتي نظام کښې خصوصي اهميت حاصل ؤ. وفاق ځيني محصولونه راغونډوي او بيا د يو ټاکلي طريقه کار مطابق دا وفاقي وحدتونو باندې ويشلے شي. د پاکستان د اساسي قانون (Constitution) مطابق د دې د تقسيم دپاره د قومي مالياتي کمشن په نامه يو مستقل کمشن جوړ دے. دا کمشن ټول قابل تقسيم محصولات په دوه مرحلو کښې تقسيموي. ړومبۍ مرحله کښې دا فېصله کېږي چې دې ټيکسونو کښې به د وفاق څومره برخه وي او د صوبو به څومره حصه وي دې ته عمودي (Vertical) تقسيم وائي. دې سره چې د صوبو کومه برخه وټاکلے شي نو بيا دغه رقم څلورو واړو صوبو کښې د خاص ټاکلي فارمولې مطابق

ویشلے کېږي. دې ته افقي (Horizental) ویش وئیلے کېږي.

اوس چې په کوم اساس د دغه رقم تقسیم کېږي هغه د قومي مالیاتي کمشن د خوا مقرر شوې فارمولا ده. دې ته ایوارډ وئیلے شي ولې د دې ایوارډ موده ختمه شوې ده. پکار دا وه چې ۲۰۱۴ کښې د نوي ایوارډ اعلان شوے وے.

یاده دې وي چې وفاقي بجټ هم د دغه ایوارډ په رڼا کښې جوړېږي او چونکې صوبائي حکومتونو ته د ټیکسونو نه امدن کښې برخه د دې ایوارډ په رڼا کښې وفاقي بجټ کښې ورکړے کېږي نو په دې اساس دا دواړه بجټونه غیر آئیني ګرځولے کېدے شي ځکه چې تراوسه د نوي ایوارډ اعلان وفاقي حکومت د قومي مالیاتي کمشن د فیصلې په رڼا کښې نۀ دے کړے.

ښاغلي سردارحسین بابک دې لړ کښې د دې خیال څرګندونه هم کړې ده چې وفاقي حکومت صرف پنجاب پاکستان ګڼي او د پنجاب د مفاداتو دپاره نورې درې صوبې د نظره غورځوي.

کۀ چرې د محترم سردارحسین بابک د دې خیال جاج واخستے شي نو دا حقیقت به پټ پاتې نۀ شي چې وفاقي حکومت هم د دې غرض دپاره قومي مالیاتي ایوارډ جاري کولو کښې پښه نیولے دے چې نورو درې صوبو ته خپل حق ورنۀ کړي او د دې صوبو حق پنجاب ته ورکړي.

خو بل طرف ته د پښتونخوا حکومت هم په خپلو ذمه وارو سترګې پټې کړې دي. په پارلیمنټ کښې د پښتونخوا واکمن ګوندونه هم مناسبه نمائندګي لري باید چې دغه ګوندونو دغه مسئله پارلیمنټ کښې اوچته کړے وے. بله دا چې د داسې قسمه مسئلو اوچتولو او د دې د هوارې مناسب ځائې د مشترکه مفاداتو کونسل دے. دا کونسل هم یو آئیني اداره ده.

د صوبائي حکومت ذمه واري ده چې دې کونسل ته ئې په خصوصي توګه دا مسئله اوړلے وے. ولې د پښتونخوا حکومت تراوسه خپلې دې ذمه وارۍ پوره کولو کښې پاتې راغلے دے. د بلوچستان او سندهـ حکومتونو هم خپلې ذمه وارۍ دې لړ کښې نۀ دي پوره کړي.

دلته دا خبره باید چې هم وشي چې د پاکستان تقریباً هر وفاقي حکومت کوشش دا کړے دے چې د مشترکه مفاداتو کونسل او قومي مالیاتي کمشن بې اثره کمزورے او ضعیف کړي ځکه چې دغه دوه اهمې ادارې د وړو صوبو د سیاسي انتظامي او مالیاتي حقوقو ساتنه کوي. سینټ ته هم توجه نۀ شي ورکولے بلکې سینټ خو د مالیاتي چارو کښې هیڅ څه کردار نۀ شي ادا کولے. البته د پاکستان پیپلز پارټۍ او عوامي نیشنل پارټۍ تیر حکومت په رومبي ځل د یوې

کوټلې قومي مالياتي ايوارډ اجرا کړې وه خو د هغې د عمل موده پوره شوې ده.

وفاقي حکومت د نوې سرشمېرنې (مردم شماری) بهانه کوي حالانکې څنګه چې د ملک نور نظام د ۱۹۹۸د سرشمېرنې په اساس چلوي نو قومي مالياتي ايوارډ ورکولو کښې د سرشمېرنې خنډ ببخي څه قانوني يا آئيني جواز نۀ لري.

ضرورت د دې خبرې دے چې دې لړ کښې د وفاقي او صوبائي حکومتونو احتساب وشي. ځکه چې دا د آئين خلاف ورزي ده او کوم حکومت چې د آئين مطابق کار کولو کښې پاتې راشي هغه حکومت په ځائې نۀ شي پاتې کېدے يعنې داسې حکومت غير آئيني وي. سپريم کورټ په خپله هم د دې نوټس اخستے شي خو دا به د منتخب پارليمان غټه ناکامي وي.

# خليج کښې نوې شخړه

د روان کال د جون ړومبۍ هفته کښې د عربي نړۍ يوې برخه کښې نوې شخړه راپېدا شوه. د سعودي عرب په مشرۍ کښې څلورو عربي هېوادونو قطر سره خپل ټول سفارتي تړونونه وشلول. دې عربي هېوادونو کښې د سعودي عرب نه علاوه مصر،متحده عرب امارتونه او بحرين شامل دي. دا پېښه دومره ناڅاپي مخې ته راغله چې دنيا ورته ګوته په خله شوه. سعودي عرب او د دۀ ملګرو په قطر تور پورې کړو چې دا هېواد د ترهګرو ملاتړ کوي. د فلسطين سخت دريځه تنظيم حماس سره لاس امداد کوي او د مصر د سخت دريځه مذهبي ګوند اخوان المسلمون غړو ته ئې پناه ورکړې ده.

سعودي عرب دا اعلان په داسې وخت کښې وکړو چې دوه درې ورځې مخکښې ترې د امريکې صدر ټرمپ د ړومبۍ خارجه سفر نه پس خپل وطن ته ستون شوے ؤ. د ځينې خلقو دا خيال دے چې شايد سعودي عرب دا قدم د صدر ټرمپ په وينا پورته کړے وي. ځينې هېوادونو په هغه صورت حال خپل رد عمل ښودلے دے کوم چې د سعودي عرب او د دۀ د ملګرو د دې قدم اوچتولو په نتيجه کښې عربي دنيا خاص توګه باندې خليج کښې پېدا شوے دے.

ياده دې وي چې منځني ختيز (Middle East) کښې د مخکښې نه خپل منځني جنګونو حالات کړکيچن کړې دي.عربي نړۍ د بې يقينۍ د صورت حال سره مخ ده. او د دې حالاتو بنيادي وجه عربي هېوادونو کښې د جمهوريت په نامه امريتونه او د اسلام يا رواياتو په نامه شخصي بادشاهتونه دي.

د څه مودې راهسې سعودي عربستان د اسلامي فوځ په نامه د يو فوځي اتحاد اعلان هم کړے دے چې د سعودي عربستان په قول دا فوځ به د ترهګرۍ خلاف عمليات کوي. د دې تش په

نـوم فوځي اتحاد هيڅ څه اصول (By Laws) يا د كـار دائـره تـراوســه مخې تـه نۀ ده راغلې او نۀ چـرته د شريكو هېوادونو غونډه دې لړ كښې شوې ده. البتــه د پاكستان د فوځ يو ريټائرډ سرلښكر د دې فوځ مشر ټاكلے شوے دے. ټول خلق دغه فكر اخستــي دي چې د سـعودي عربستان خو د يو غير اسلامي ملک سره دښمني يا لانجه نشته او كۀ څه لانـجــه ئې شتـــه نـو هـغـه خپلو ګـاونډي عربي هېـوادونـو يا ايران سره ئې ده. او دا ټول ملكونه د مسلمانانو دي نو بيا د مسلمانانو خلاف د اسلامي فوځي اتحاد څه ضرورت دے؟

د فـكـرمـنـدۍ او تشويش په دغه حالاتو كښې مسـلـمـانـانـو دا خبـر واورېدو چې سعودي عربستان قطر هم خپل دښمن اعلان كړو. دا ولې؟ وجـوهات څه دي؟ په ظاهره خو د دې وجوهات دغه ښـودلے شـوې دي د كـومو ذكر چې وشو. ولې پـه اصـل كښې د دې انتهائي قدم اخستو يوه وجه ده او هـغـــه دا ده چې قـطـر د ايـران خلاف د سعودي عـربستـان سـره اودرېـدو ته تيار نۀ دے. او بله دا چې د خـليـج ټـول هېـوادونـه بې شرطه د سعودي عـربستـان د اواز سـره اواز يو ځائې كوي خو قطر خپلې فېصلې په خپله كوي كۀ هغه صحيح دي او كۀ غـلطې. قطر يو وړوكے غونډې ملک دے. ځان ئې د متــحـده عرب امارتونو نه هم جدا ساتلے دے او د سـعـودي عـربستان د جغ نه هم ازاد. سعودي عـربستـان او متــحـده عـرب امارتونه دواړه د دې وړوكـي خـو د مـــالـدار هېـواد ګستـــاخـي نۀ شي زغملے.

قـطـر د بـحـريـن،متحده عرب امارتونو، سـعـودي عـربستـان او ايران ګاونډي دے. پـه كال ۱۹۷۱ كښې د قـطـر د سټ نـه د برطانيې جغ كوز شـوے دے. رقبه ئې ۲۲۸۲مـربـع كلو ميټره ده. آبـادي ئې په ۲۰۱۲ كښې دويشـت لاكـه يو نوي زره درې سـوه اتـه شپېته ده (۲۲۹۱۳۲۸) ولې دې كښې صــرف شـل فيـصـده يـعنې درې لاكـه ديـارلس زره (۳۱۳۰۰۰) قـطري عرب دي باقي ټـول خـلـق د نـورو ملكونو نه د كار روزګار دپاره راغـلې دي. د ټـولو نه زيات هندوستانيان په قطر كښې آبـاد دي چې شـمېـره ئې شپږ نيم لاكـه ده. نيپـــاليــان هـم درې نيـم لاكـــه دي. يـو لاک او پيـنځويشت زره (۱۲۵۰۰۰) پـاكستـانيان قطر كښې كـــار روزګـــار كـوي چې زيـات تـر پكښې پښتـانۀ دي. قـطـر كښې سړي سـر امدني يو لاک شپږ څلويښت زره (۱۴۲۰۰۰) ډالـره ده. چې په دنيـا كښې ور تـــه پـــه دې لړ كښې اوليت حاصل دے. پـه داسې حـالاتو كښې به قطر څنګه ځان په خپـل سـر ازاد او خپلواک وساتلے شي شايد چې د سعودي عربستان نظر د قطر په دولت هم دے.

سـعـودي عربستان چې د قطر خلاف كوم قـدم پـورته كړو دې كار كښې هغه ځان ته ملګري هـم پېـدا كړل شـايـد چې دا چل ئې د خپـل نائيک امـريكې نه زده كړے وي. دې لړ كښې بحرين، او عـرب امـارتـونه زيات اهميت نۀ لري ولې د مصر مـرستـه حـاصـلـول د سعودي عربو غټه كاميابي

ځکه ده چې مصر خپلې فېصلې همېشه د خپلو مفاداتو په رڼا کښې کوي. مصر خپل طاقتور او د ذکر وړ فوځ هم لري. د مصر ملګرتيا اخستو دپاره سعودي عرب د مصر موقف او مفادات هم خپله فېصله کښې ځائې کړل او په قطر ئې دا تور پورې کړو چې دې هېواد د مصر د اخوان المسلمون غړو ته پناه ورکړې ده. دغه شان د حماس مرسته کول او د ترهګرۍ ملاتړ کولو الزاماتونه ځائې ورکول هم د سعودي عربستان يوه کړنلاره يا لائحه عمل دے.

د سعودي عربستان د دې اقدام په مرسته کښې اُردن او افريقائي مسلمان هېواد ماريطانيه هم قطر سره د اړيکو شلولو اعلان وکړو ولې ترکي په ډاګه د قطر د مرستې اعلان وکړو بلکې قطر ته ئې د فوځ لېږلو منظوري د خپل پارليمان نه واخسته چې د اهميت وړ اقدام دے.

د ترکي د خوا د قطر د حمايت نه دا اشاره پرقبېږي چې په قطر دا الزام ځائې نيسي چې د اخوان المسلمون غړو ته ئې پناه ورکړې ده. ځکه چې د ترکي واکمن د طيب اردګان ګوند د هغه نوعيت اسلامي نظريات لري کوم چې د اخوان المسلمون دي. بلکې اخوان المسلمون ړومبے اسلامي ګوند دے چې د نوي اسلامي سياست بنياد ئې ايښودے دے. د اخوان المسلمون اثرات پاکستان او افغانستان کښې د جماعت اسلامي، حزب اسلامي او جمعيت اسلامي په شکل کښې دې دوه مسلمان ملکونو کښې موجود دي.

داسې برېښي چې د قطر د واکمنو تعلق هم دغه نظرياتو سره دے. دلته دا هم يو حقيقت دے چې د قطر د واکمن خاندان مذهبي عقائد لکه د سعودي د واکمنو دي. د ترکي د خوا د قطر فوځي مدد کولو سره داسې ښکاري چې سعودي د قطر په حق له کومه وړې ريشلې ده هغه به شړې نۀ کړے شي. ځکه چې ترکي مسلمان ملکونو کښې يو مضبوط فوځي طاقت دے خو بيا هم کۀ امريکې د قطر خلاف مېدان ته راودانګل نو ترکي به هم په شا کېدو ته په څه بهانه مجبور شي. د امريکې صدر ټرمپ هم په قطر دا تور لګولے دے چې دا ملک د ترهګرو مالي مدد کوي خو ترکي د دې په جواب کښې ډېر په پسته لهجه وئيلي دي چې ترکي نۀ دے خبر چې ګوندې قطر د ترهګرو مالي مدد کوي. دې لړ کښې پاکستان هم د خپلې کمزورې خارجه پاليسۍ د لاسه مشکلاتو کښې ګېر دے. پاکستان تل د مملکتونو په ځائې د حکمرانانو سره تعلق ساتلے دے او کله چې د يو ملک حکمران واک د لاسه ورکړي نو هغه هېواد سره د پاکستان تعلقات هم کمزوري شي.

د سوئيکارنو او ايوب خان د تعلقاتو په اساس انډونيشياء د پاکستان نژدې دوست ؤ. ولې د دغه دواړو حکمرانانو د زوال نه پس د انډونيشياء او پاکستان اړيکې هم سړې شوې. دغه شان د ذوالفقارعلي بوټو د ايدي امين او معمرقذافي سره دوستانه اړيکې وې د دې واکمنو واک سرته رسېدو سره د پاکستان سره نۀ خو د

یوګنډا څه نژدې تعلق پاتې شو او نۀ د لیبیا.

نـنـنـي وخت کښې د پاکستان د واکمنو د سـعودي،قطر او ترکي د واکمنو سره ذاتي تعلقات دي. اوس بۀ کتـے شـي چې پـاکسـتـان بـه څه قدم پـورتـه کـوي. ځـکه چې یو خوا پړانګ دے او بل خوا ډانګ.

پـاکسـتـان بـه قـطـر او ترکي اخلي کۀ سـعـودي عربستان. پاکستان د سعودي عربستان پـه مشـرۍ کښې هـغـه تـش په نامه اسلامي فوځ کښې شـامـل دے کوم چې قطر ته پتون وهلے دے او د قـطـر پـه مـرسـتـه کښې د پاکستان بل خوږ دوسـت دغـه اسـلامـي فـوځ ته د لارې نیولو اراده کړې ده. البتـه کۀ پـاکستان د دې جوګه وي چې د دواړو فریقو ترمېنځه د تاوتریخوالي کمولو دپاره کـردار ادا کړي نـو دا بـه د ستاینې وړ کوشش وي. ګنې دې امتحان کښې به پاکستان مشکلاتو سره مخ شي.

# کابل کښې د امنیت د ګډوډۍ نوې لړۍ

د روان کـال د مـئ یودیرشمه نېټه د کابل دپـاره یـوه سپېـره ورځ وه. پـه دې ورځ سحر ښار بـارودو داسې ولړزولـو چې په نتیجه کښې ئې یو نیـم سل کسان په حق ورسېدل او درې سوو پورې ژوبـل شول. دا پېښه د ښار هغه برخه کښې وشوه چـرته چې حکومتي دفترونه او د خارجه هېوادونو سفارت خانې دي. د امنیتي چاروا کو د وېنا مطابق د جـرمني د سفارتخانې سره نژدې د بارودو نه ډک یو ټرک والوزولے شو. دا د کابل دپاره څه معمولي واقـعـه نۀ وه. دې پېښې د کابل د خلقو او واکمنو زړونـه هـم را ولړزول. د خـلـقو او واکمنو زړونو کښې نوې وسوسې پېدا شوې.

یـو طـرف تـه سـوونو کورنیو کښې ماتم جـوړ شـو. د تـور سـرو د ژړا چـغو ټولـه نړۍ را ولړزوله. بل طرف ته عام اولس او واکمنو شونډې چیـچل شروع کړل. خو د چا هم وس نۀ ؤ چې د دې خـونړۍ پېښې بـدل واخلي ځکه چې نۀ خو دښمن مخامخ ولاړ ؤ او نۀ ئې څه پېژندګلو کیده. د هر چا په ژبه دا سوال ؤ چې آخر دا ولې او دا چا؟

پـه داسې حالاتو کښې د افغانستان خفیه ادارې د دې پېښې پړۀ پـه پـاکستان وغورزوله. د افـغـانسـتان خفیه امنیتي ادارې دا دعوه وکړه چې دا حـمله د طالبانو د تنظیم یوې برخې حقاني نیټ ورک کړې ده او د دې تـنظیم مرکز پاکستان کښې دے. ورسـره ئې دا افسـوس ناک الزام هم ولګولو چې د حـقـانـي نیټ ورک پـه شـا د پاکستان خفیه ادارې ولاړې دي.

پـاکسـتـان د کابل د خونړۍ پېښې غندنه وکړه او ورسره ورسره ئې د افغانستان حکومت او اولـــس ســره غــمـرازي هـم وکړه. پـاکسـتـان د افـغـانسـتـان تـورونه رد کړل. د دې پېښې خلاف کـابل کښې د صدارتي ماڼۍ سره نژدې د حکومت خـلاف یـوه مـظـاهره وشوه دا مظاهره هم خونړۍ ثـابـتـه شـوه. پـه مـظـاهرچیانو د پولیسو د ډزو په

نتیجه کښې د خبرونو مطابق درې کسانو ژوند د لاسو ورکړو. مړو کسانو کښې د افغانستان د مشرانو جرګې د (Senat) د رئیس د مرستیال ځوے هم شامل ؤ. روستو د دۀ د جنازې د لمونځ دوران کښې درې نورې ځان وژونکې حملې وشوې. دې پېښه کښې هم قیمتي سرونه زیان شول.

د افغانستان حکومت دپاره دا پېښې یو داسې امتحان ؤ چې سیاسي،امنیتي او انتظامي اړخونه ئې لرل. حکومت په ۱۲ جون کابل کښې یو امن کانفرنس راوغوښتو. د دې کانفرنس مقصد دا ؤ چې د امنیت او سلامتیا په لړ کښې د نړۍ د هېوادونو مرسته ترلاسه کړي. کانفرنس کښې دوه درځنو پورې هېوادونو او د نړیوال تنظیمونو نمائندګانو ګډون وکړو. ټولو ګډون والو د دې خونړۍ پېښو غندنه وکړه او افغانستان سره ئې د مرستې ملګرتیا کولو ژمنه او لوظ وکړو. د افغانستان حکومت ته ئې ډاډ ورکړو چې نړۍ د ترهګرۍ خلاف جنګ کښې د افغانستان په شا ولاړه ده.

دې کانفرنس ته د اولسمشر ډاکټر اشرف غني تقریر د خصوصي ذکر وړ دے. کۀ یو طرف ته ډاکټر اشرف غني پاکستان او افغانستان کښې د ترهګرۍ د پېښو ذمه وار وګرزولو نو بل اړخ ته ئې افغان طالبانو ته ملي سیاست کښې د راګډېدو بلنه ورکړه.

پاکستان د ډاکټر اشرف غني الزامات رد کړل او افغانستان سره ئې د ترهګرۍ خلاف د پوره پوره مرستې کولو لوظ یو ځل بیا تازه کړو. خو د طالبانو د خوا تراوسه څه ردعمل مخې ته نۀ دے راغلے. البته طالبانو د کابل د خونړۍ پېښو سره د لا تعلقۍ اعلان وکړو.

دلته دا خبره هم د ذکر وړ ده چې د کابل د خونړۍ پېښو خلاف په ړومبي ځل پېښور کښې د مدني ټولنو (Civil Society) د خوا یوه درنه مظاهره وشوه. مظاهرچیانو د انساني سرونو په زیان د افسوس څرګندونه وکړه او دا پېښې ئې په سختۍ سره وغندلې.

د کابل خونړۍ پېښې یوه انساني المیه ده. دې پېښه کښې د عامو خلقو د سرونو نقصان شوے دے. هیڅ څوک د داسې پېښو مرسته نۀ شي کولے. کۀ چرې دې قسمه واقعاتو دوام وموندلو نو دې سره به هیڅ څوک محفوظ پاتې نۀ شي. چونکې د داسې حملو مجرمان پټ دي. او پټ غل بادشاه دے. نقصان ئې دا دے چې په هر چا شک کېږي. هر څوک د خپل خیال او سوچ مطابق مجرم په ګوته کوي او اصل مجرم په قلار ناست وي.

دې لړ کښې د سیمې د ټولو ملکونو د حکومتونو ذمه واري ده چې د داسې پېښو د مخنیوي دپاره رامخکښې شي او په شریکه مثبت قدمونه واخلي. دا قسمه پېښې صرف په افغانستان نۀ کېږي بلکې پاکستان او ایران هم د دې نه محفوظ او په امان نۀ دے. کۀ چرې

پاکستان،افغانستان او ایران په ګډه کیني او یوه شریکه کړنلاره وټاکي نو د دې پېښو مخنیوے کېدے شي.

د درې واړو هېوادونو د حکومتونو دا ذمه واري ده چې په خپله خپله خاوره د مذهبي انتها پسندۍ خلاف عملي ګامونه اوچت کړي ځکه چې دغه انتهاپسندي د ترهګرۍ بنیاد دے. درې واړه هېوادونه باید چې نور ټول اختلافات شاته کړي او ټوله توجو امنیت ته ورکړي.

دلته دا خبره هم د کولو ده چې دا زمانه په زور د حکومتونو کولو نۀ ده. درې واړه هېوادونو کښې خپل خپل نظامونه او اداري موجودې دي باید چې د دې احترام وشي. کۀ چرې افغانستان، ایران او پاکستان خپله خپله ذمه وارۍ پوره کولو کښې پاتې راغلل نو دې سره به ټوله منطقه کښې داسې اور خور شي چې د مړ کولو به ئې هیڅوک نۀ وي.

## د میا محمد نوازشریف او ډاکټر اشرف غني ملاقات

د قازقستان په ښار آستانه کښې د شنګائي تعاون تنظیم (Shingai Cooperation Organization) د سرټولنې سره خوا خوا کښې د شریکو هېوادونو د سر مشرانو ترمېنځه جدا جدا لیدۀ کاتۀ هم وشول. دا د دغه قسمه ټولنو یوه اضافي فائده وي. دې لړ کښې د پاکستان وزیراعظم میا محمد نوازشریف هم فائده پورته کړه او د مختلفو هېوادونو د سرمشرانو سره ئې ملاقاتونه وکړل. دې ملاقاتونو کښې د افغانستان د جمهور رئیس ډاکټر اشرف غني سره ملاقات ئې د خصوصي اهمیت وړ ځکه دے چې د تېرو څو میاشتو راهسې د افغانستان او پاکستان ترمېنځه د بدګمانۍ او نباورۍ په اساس تاوتریخوالے ورځ تر ورځه په زیاتېدو ؤ.

افغانستان کښې د ترهګرۍ د پرله پسې پېښو په نتیجه کښې د پاکستان او افغانستان ترمېنځه تاوتریخوالے اخري حدونو ته رسېدلے دے. د دغه تاوتریخوالي د کمولو دپاره د پاکستان د لوړ کچ یوه پارلیماني جرګه کابل ته هم لاړه ورپسې د پاکستان د فوځ یو بااختیاره جرنیل هم د کابل سفر وکړو ولې څه خوږه میوه ترې ترلاسه نۀ شوه. د افغانستان صدر په مسلسله توګه د پاکستان د سفر کولو نه انکاري ؤ. او د پاکستان د وزیراعظم سره ملاقات کول ور ته یو بې مقصده کار ښکارېدو. ولې واوره ویلې شوه. د استانه سرټولنې کار وکړو. او د پاکستان د وزیراعظم میا محمد نوازشریف او د افغانستان د جمهور رئیس ډاکټر اشرف غني ترمېنځه د یوې ګېنټې (ساعت) اوږد ملاقات وشو. ظاهره خبره ده چې دواړو سرمشرانو به یو بل ته ګیلي مانې کړې

وي. میا نوازشریف کابل کښې د خونړۍ پېښو غندنه وکړه او افغان صدر سره ئې خواخوږي څرګنده کړه.

د یوې ګېنتې خبرې څه کمې خبرې نهٔ دي. دې دوران کښې به ارومرو هره معامله د بحث لاندې راغلې وي. او دواړو مشرانو به د یو بل خبره اورېدلې وي او په هغې به ئې ضرور خپل موقف هم یو بل ته څرګند کړے وي. افغانستان کښې د طالبانو غورځنګ او د هغوي پوزیشن او حیثیت به هم د خبرو موضوع جوړه شوې وي. دا هم ضروري ده چې د دواړو موقف او دریځ به هم مثبت ؤ. ولې دواړو به خپلو خپلو مجبورو نه هم یو بل خبر کړے وي.

ښه خبره دا ده چې دواړو غاړو د خارجه وزارتونو په ذریعه د ملاقات هغه اړخونو نه دواړه ملتونه او د نړۍ خلق خبر کړل کوم چې دواړو هېوادونو ضروري ګڼل او یا پرې متفق شوې دي. دې لړ کښې دواړه غاړې په دې یو خله شوې چې څلور فریقي خبرې اترې یو ځل بیا شروع کړي. دې سره سره دواړو مشرانو په دې هم اتفاق وکړو چې دواړه ملکونه به په دوه اړخیزه اساس د امن او سولې دپاره کار کوي.

کهٔ چرې هغه جذبه مخکښې بوتللے شي د کومې جذبې په اساس چې دغه ملاقات شوے دے نو هیڅ وجه نهٔ شي کېدے چې خپل مینځني ستونزې هوارېدو سره سره به دواړه هېوادونه په شریکه د امن هدف ته هم ځانونه ورسوي. او دا ځکه چې دواړه امن ته اړتیا او ضرورت لري.
دواړه مشران په دې لحاظ یو شان سوچ لري چې د دوي هېوادونه دې اقتصادي توګه باندې ترقي وکړي. ډاکټر اشرف غني خو دې لړ کښې د یو پروفیشنل (Professional) په حیث هم شهرت لري.

اقتصادي ترقۍ دپاره د دواړو ملکونو یو بل سره مرسته ملګرتیا ضروري ده. دا هم د ذکر او د توجو وړ خبره ده چې دواړه هېوادونه د شنګائي ملګرتیا تنظیم په غونډو کښې په یو ځائې ناست دي. دغه شان په ډېرو نورو سیمه ایزه تنظیمونو کښې شریک دي. کهٔ چرې دواړه ملکونه یو بل سره مرسته ملګرتیا کولو کښې غرضي نهٔ وي نو بیا دوي په دې تنظیمونو کښې د څه مقصد دپاره په یو ځائې کیني پاسي.

دې کښې هیڅ شک نشته چې دواړو هېوادونو کښې به داسې خلق موجود وي چې هغوي په خپل ذاتي مقاصد لري او یا به د پاکستان او افغانستان د تعلقاتو د اهمیت نه نهٔ وي خبر. هغوي به داسې حالات جوړوي چې د دې دوه ګاونډیانو د دشمنۍ یا په یو بل د نباورۍ وریځې دې هم دغه شان خورې وي.

ځینې نور ملکونه هم داسې کېدے شي

چې هغوي د خپلو مقاصدو دپاره د پاکستان او افغانستان ترمېنځه د دوستۍ اړيکې نۀ غواړي.

دا هم يو حقيقت دے چې ځينې د اختيار خاوندان د افغانستان او پاکستان سره اړيکو ته صرف په دفاعي نظر ګوري دا يو منفي او غير حقيقت پسندانه نظر دے. د ټولو نه زيات اهميت د دواړو هېوادونو ترمېنځه دوستانه اړيکې ټينګول دي. د دواړو ترمېنځه تجارتي هلې ځلې تندول د دواړو ضرورت دے. او د دې مقصدونو حاصلولو دپاره دواړو هېوادونو کښې امن ضروري دے. او دا امن هله يقيني کېدے شي چې د دواړو ملکونو حکومتونه په خلاص مټ دې لړ کښې د يو بل ملاتړ وکړي.

## د عبدالولي خان يونيورسټۍ د پېښې په لړ کښې تحقيقاتي رپورټ

د عبدالولي خان پوهنتون د پېښې په حق له چې کومه مشترکه تحقيقاتي ټيم (JIT) جوړ شوے ؤ هغې خپل رپورټ متعلقه دفتر کښې داخل کړے دے. د رپورټ کومې برخې چې د اولس مخې ته راغلې دي د هغې مطابق دا پېښه د يوې منصوبې مطابق عملي شوې ده. رپورټ کښې وئيلے شوي دي چې مشال خان باندې چې د مذهب د سپکاوي کوم تور پورې کړے شوے ؤ هغه بې بنياده دے او د دې تور شاته يو سازش پټ دے. مشترکه تحقيقاتي ټيم د عبدالولي خان پوهنتون د انتظاميې سره تعلق لرونکي ځينې اهلکار د دې پېښې ذمه وار ګرځولې دي. تحقيقاتي ټيم د يونيورسټۍ انتظاميه نااهله وګرځوله.

بل طرف ته د کيس په حق له چالان عدالت ته وړاندې کړے شوے دے ولې د شهيد مشال خان پلار د مردان متعلقه عدالت کښې حاضرېدو نه په دې وجه معذرت کړے دے چې دلته د بااثره خلقو نه د دۀ ژوند ته خطره ده. ځکه نو دا مقدمه دې د مردان په ځائې بله ضلع کښې واورېدے شي. دۀ دې غرض دپاره پېښور هائي کورټ کښې يو رټ درخواست کړے دے صوبائي حکومت د درخواست مرسته کړې ده.

بل اړخ ته د مردان د ځينې سياسي ګوندونو د مشرانو د خوا چې د واقعې په حق له کوم موقف ؤ هغه هم په خپل ځائې دے. دا سياسي مشران په ښکاره د مشال خان وژل په حقه ګڼي ولې مشترکه تحقيقاتي ټيم دا مشران نظر انداز کړې دي. دا مشران په ښکاره د دغه غير قانوني عمل مرسته او ملګرتيا کوي ولې د مردان پوليس او انتظاميې تراوسه د دې هيڅ څه نوټس نۀ دے اخستے.

دې حقيقت ته هيڅ څوک توجو نۀ ورکوي

چې په مشال خان چې کوم الزام ؤ هغه جدا جرم دے او د دۀ قتلول جدا جرم دے. د مشال قاتلانو صرف دا نۀ چې مشال ئې وژلے دے بلکې دوي د حکومت واکمني چیلنج کړې ده. د ملک قانون او عدالتي نظام ئې چیلنج کړے دے. کۀ چرې ملک کښې دا لړۍ هم دغسې دوام داره پاتې شوه نو د دې ملک نه به یو ځنګل جوړ شي او هر څوک به خپله خوښه کوي. هر ځائې کښې به عدالت ولګي او په خپله خوښه به فېصلې کوي. دا واقعه د پښتونخوا د حکومت دپاره هم یو امتحان دے. او د عدلیې هم امتحان دے.

تر څو چې د یونیورسټۍ د انتظامیې د نااهلۍ تعلق دے باید چې د دې هم تحقیقات وشي او یونیورسټي د نااهلو اهلکارو نه پاکه کړے شي. ځکه چې عبدالولي خان پوهنتون د یو داسې هستۍ په نامه ده چې هغه ټول عمر د اهلیت،میرټ او انصاف دپاره مبارزه کړې ده. هغه علم پروره او حق پرست ؤ. بله دا چې عبدالولي خان پوهنتون د مردان یوه اهمه تعلیمي اداره ده باید چې د دې د عزت خیال وساتلے شي. او دا اداره بدنامه نۀ کړے شي. دا اداره د علم،پوهې،تحقیق او څېړنې زانګو جوړولو سره به د مردان عزت او وقار کښې زیاتوالے راشي. کۀ چرې د مردان سیاسي مشرانو دا حقیقت تر نظره وساتلو نو دې سره به د دوي قدرونه هم په ځائې پاتې شي او د دوي وقار او عزت به روښانه شي.

# د مالي کال 2017-18 وفاقي او د پښتونخوا بجټ ته یوه کتنه

مالي کال 2017-18 دپاره قومي اسمبلۍ وفاقي بجټ او څلورو واړو صوبائي اسمبلو د خپلې خپلې صوبې دپاره بجټونه منظور کړل. د وفاقي بجټ ټول حجم 4.75 ټرلین روپۍ دے. د افسوس خبره دا ده چې کله وفاقي بجټ پېش کېدو نو اپوزیشن د بجټ تقریر اورېدو نه بائیکاټ وکړو او بیا د دې نه زیاته د افسوس خبره دا ده چې اپوزیشن په بجټ بحث هم ونۀ کړو. تر څو چې د تحریک انصاف د رویې تعلق دے نو د دې غړو خو د وړومبۍ ورځې راهسې په وفاقي کچ هیڅ څه پارلیماني کردار ادا نۀ کړو. او دغه شان چا چې دوي ته ووټ ورکړے دے هغوي د نمائندګۍ نه محرومه پاتې شو حالانکې دغه ممبران تنخواګانې او نور ټول مرآت باقاعدګۍ سره اخلي.

د اپوزیشن د دلچسپۍ نۀ اخستو په وجه حکومتي غړو هم بحث کښې برخه اخستو نه ډډه وکړه او په نتیجه کښې هم هغه څه منظور شول څه چې بجټ تجویزونو کښې شامل وو. قومي اسمبلۍ چې په بجټ بحث ونۀ کړي نو د داسې اسمبلۍ نه نوره څه توقع کېدے شي. دا هم یو

حقیقت دے چې نن ملک کښې د پانامه کیس په حواله ملک کښې کومه سیاسي ګډوډي ده د هغې وجه د پارلیمان د نیشت برابر کردار دے. پارلیمان کښې داسې خلق ناست دي د چا چې د پارلیمان د کاروائۍ سره هیڅ څه دلچسپي نشته. شاید چې خلقو د خپل ووټ غلط استعمال کړے دے خو داسې ښکاري چې راتلونکي انتخاباتو کښې به هم خلق د ووټ صحیح استعمال ونۀ کړي. د هغې وجه دا ده چې خلق د اسمبلو د اهمیت نه نۀ دي خبر.

دلته دا خبره هم د کولو ده چې د اسمبلو دغه ممبران د اسمبلۍ نه بهر ښه فعاله وي. خلقو سره ئې جوخت تعلق وي. دوي ځانونه د علاقې مشران ګڼي نۀ چې اسمبلو کښې د خلقو نمائندګان کۀ چرې دغه کلچر روان پاتې شو نو دا به د جمهوریت دپاره نیک فال نۀ وي چې پارلیمان کمزورے وي نو نورې آئیني او موثره اداري د صورت حال نه ناجائزه فائده هم اخستے شي. د پارلیماني ادارو د کمزورتیا او ذمه واري په سیاسي ګوندونو پریوځي. سیاسي ګوندونه هم انتهائي کمزوري دي. سیاسي ګوندونه د اسمبلو د غړو په لاسو کښې لوبېږي او دا ځکه چې سیاسي ګوندونو باندې د خاندانونو قبضه ده او د پارټو د کونسلو او کارنده کمیټو نه خو څه اهمیت شته او نۀ کردار.

په داسې حالاتو کښې وفاقي بجټ د مالیاتو د وزارت د خوښې بجټ نه بغېر بل هیڅ نۀ دي. دې بجټ کښې یو ټریلین روپۍ ترقیاتي کارونو دپاره بېلې کړے شوې دي. خو دا ترقیاتي کارونه صرف تر یوې صوبې پورې محدوده دي. د مالیاتو وزیر دعوه لري چې د ټیکسونو په مد کښې به حکومت ته 4.33 ټریلین روپۍ په لاس راځي. د حکومت دا هم دعوه ده چې ټیکسونو کښې به د تېر مالي کال په نسبت 14 فیصده اضافه کېږي. د حکومت دا هم دعوه ده چې د تېر کال په مقابله کښې ترقیاتي بجټ 40 فیصده زیات دے.

وفاقي محصولاتو کښې به صوبو ته 2384 بلینه روپۍ ورکړے کېږي. تېر کال دا رقم 2121 بلینه روپۍ وي. یعنې صرف 263 بلینه روپۍ زیاتې شوې دي حالانکې د وفاقي حکومت دعوه ده چې وفاقي اخراجاتو کښې 11 فیصده اضافه شوې ده. سوال دا پېدا کېږي چې کۀ وفاقي اخراجاتو کښې اضافه د تنخواګانو کښې د اضافې او د ګرانۍ په وجه وي نو دغه صورت حال سره خو صوبې هم مخ دي نو بیا صوبو دپاره دومره کمې پېسې ولې اېښودے شوې دي. بله دا چې وفاقي حکومت خپلو اخراجاتو کښې ولې غیر ضروري اضافه کوي. د آئین مطابق باید چې هغه ټولې محکمې وفاق صوبو ته حواله کړي کومې چې د اتلسم آئیني ترمیم سره اوس د وفاقي فهرست نه

وتې دي. څنګه چې مخکښې ووئيلے شول چې اپوزيشن په بجټ کښې د بحث کولو نه ځان ډډې ته کړے ؤ. او د اپوزيشن تعلق زيات تر د سندهـ او پښتونخوا سره دے. د سندهـ او پښتونخوا نمائندګانو د بجټ اجلاس نه د بائيکاټ په نتيجه کښې خپلو خپلو صوبو سره انصاف ونۀ کړو او دغه شان وفاقي بجټ د پنجاب بجټ پاتې شو. د دې ذمه وار تحريک انصاف او پيپلز پارټي ده.

پاکستان کښې دا اصول او روايات را روان دي چې صوبائي بجټونه يا بوديجې د وفاقي بجټ (بوديجې) وړاندې کولو نه پس خپلو خپلو اسمبلو ته وړاندې کولے شي او د دې وجه دا ده چې د کومې کړنلارې (Policy) تعين وفاقي بجټ کښې شوے وي د هغې حيثيت د لارښونې وي بله دا چې وفاقي بجټ کښې د صوبو دپاره د آئين مطابق خپله مالي برخه ټاکلے شي.

دې لړ کښې څلورو واړو حکومتونو خپل خپل بجټ خپلې خپلې اسمبلۍ ته وړاندې کړے دے. تر څو چې د خيبرپښتونخوا د بجټ تعلق دے د دې په حق له د پښتونخوا وزيراعلی بيا بيا دا اعلانونه کول چې دې بجټ کښې به هيڅ يو نوے ټيکس نۀ لګي. ولې چې کله بجټ تجويزونه مخې ته راغلل نو دومره بالواسطه (Indirect) ټيکسونه متعارف شول چې د دې نه مخکښې چرته هم دومره ټيکسونه نۀ وو لګېدلي حتی چې په درزيانو هم ټيکس ولګېدو. حالانکې درزي يو هنرمند خواري کښ دے نۀ چې کاروباري.

د مالي کال 2017-18 دپاره د پښتونخوا د بجټ مجموعي حجم 603 ارب روپۍ دے چې ترقياتي بجټ دپاره په کښې 206 ارب روپۍ بېلې کړے شوې دي. دا رقم څه کم رقم نۀ دے ولې د بده مرغه تېر مالي کالونو کښې هم صوبائي حکومت ترقياتي بجټ په بشپړه توګه په کار اوستو کښې پاتې راغلے دے. دا ځل هم امکان نۀ لري چې دا دروند رقم په وخت او په ځائې خرچ کړے شي د دې وجه د حکومتي ادارو نااهليت دے.

وفاقي او صوبائي بجټونو کښې فرق دا وي چې د وفاقي بجټ اساس د ملک مجموعي اقتصاد او د هغې په لړ کښې کړنلارې (Policies) وي. لوئې لوئې ترقياتي منصوبې د وفاق ذمه واري وي ولې د صوبائي بجټ تعلق اولسي مدونه (Social Sectors) وي. دې لړ کښې تعليم او صحت اولنے ترجيح وي ولې زراعت،خوراک،ځنګلات، معدنيات،ماحوليات،سړکونه،هاوسنګ، تعميرات او بلدياتي شعبې هم د اهميت وړ وي. خو د کوټلې منصوبه سازۍ د نيشت والي په وجه اکثر هغه نتيجې رابرسيره نۀ شي د کومو چې توقع کېږي. کۀ چرې بجټ په صحيح طريقه

استعمال کېږي راوستے شي او دا د اسمبلۍ د حلقو د سیاست نه بالا اوګڼلے شي نو د دې ګټورې نتیجې راوتے شي.

د هغه ترقیاتي بجټ نتیجې ګټورې وي چې هغې کښې د ترجیحاتو تعین د حقایقو په اساس شوے وي. انتخابي حلقو او ضلعو کښې په مساوي توګه د ترقیاتي پېسو ویش همېشه د نقصان باعث وي.

# شریف خاندان نوي امتحان کښې

پانامه لیکس کښې د درځنونو په تعداد کښې د پاکستاني سرمایه کارو (Off Shore) کمپنو ذکر راغلے دے ولې په نخښه شریف خاندان شو او دا ځکه چې دا خاندان یو طاقتور سیاسي خاندان دے. د دې خاندان سیاسي حریفان او رقیبان ډېر دي. او د دغه مخالفینو دا کوشش دے چې دې خاندان کښې کمزورۍ راونیسي او هغه په ګوته کړي.

د میا محمد نوازشریف او د هغه د خاندان حریف عمران خان په خپله یا د چا په لمسه د پانامه لیکس نه فائده پورته کړه. او د نوازشریف خلاف ئې نۀ صرف په سیاسي پلیټ فارم مهم شروع کړو بلکې عدالت ته هم ورسېدو.

شریف خاندان ئې راګېر کړو. نۀ ئې صرف عدالت ته راښکلو بلکې هغه تفتیشي ټیم ته په پېش کېدو مجبور کړے شو کوم چې د میا محمد نوازشریف ماتحت ګڼلے کېږي. شریف خاندان دا هر څه یو سازش ګڼي او شف شف کښې مبینه سازشیانو ته اشاره هم کوي. هر څه چې دي خو په ظاهره دا خاندان اوس ګېر ښکاري خو بیا هم دا امکان رد کېدے نۀ شي چې شریف خاندان کۀ ټول نۀ وي نو میا محمد نوازشریف او میا شهباز شریف به د دغې جال نه راوځي. دا یو امتحان دے چې شریف خاندان به پکښې د ځان کامیابولو کوشش کوي.

دلته دا خبره هم د کولو ده چې کۀ میا محمد نوازشریف د سعودي بادشاهت پېښې نۀ کولې. پارلیمان نه ئې د ربړ ستیمپ نۀ وے جوړ کړے او په خپله وخت په وخت پارلیمان کښې ښکاره کېدے نو شاید چې موجوده صورت حال به نۀ وے جوړ شوے. کوم ملک کښې چې پارلیمان د خپل کردار ادا کولو جوګه پاتې نۀ شي نو هغه هېواد جمهوري نۀ شي ګڼلے کېدے او بیا یو حکمران ته هم دا حق نۀ وي چې د جمهوریت په نامه خپل واک ته دوام ورکړي.

☆☆☆